# داغونه مې خالونه کړل" کښې د ټولنيز شعور تجرباتي لوسته

# ANALYTICAL READ: MARKS OF SOCIAL CONSCIOUSNESS

Attaur Rahman Atta*

**ABSTRACT:**

Human being by nature is compelled to maintain close association with his society. The thought of man's existence without forming attachment to his community is totally unbearable. His bond with his society and conversely, society's association with man, is crucial to one another. As a result of this one whole—primary collectivity, man is called social animal. A poet, because of his acute observation, knowledge and refined senses also cannot remain oblivious to the accepting of these influences. These influences drive him and consequently find means of expression in the literary works he creates. Hence, literature is looked upon by the intellectuals as a wholesome activity and therefore they venture to appraise it in the light of social collectivity. Being a member of this herd, the works a poet produces, reflects this association and, in a way, he represents his community. The poetic works of Siraj.ud.Din, in addition to the plethora of other subjects it dwells on, by and large also manifest this social consciousness. In this research study, it has been endeavored to assess the thought of social consciousness present in the poet's second book "Daghoonah me Khalonah Kral."

ټولنه د انساني نوغې هغه کور، هغه مکتب او هغه شريک مېدان دی چې هره لحظه، هره لمحه ، هرساعت او وخت په کښې بدلون روان دی. د بدلون ددغه روان او ودان عمل ،د تغير ددغه پرله پسې سفر باوجود انسان دټولنې مرکز دی او د ټولنې سره مل

* Lecturer in Pashto Govt Postgraduate Jahanzeb College, Swat.

او ملګرې دی. دا ځکه چې انسان ټولنې ته په فطري توګه مجبوره دی . ټولنه کۀ يو اړخ ته د انساني نوغې مجبوري ده نو بل اړخ ته د فطرت ضرورت هم دی چې انسان ته يوه داسې اداره ورکړي چې د هغۀ روزنه ،پالنه او تربيه په کښې د فطرت د منشا مطابق اوشي او انسان هغۀ مقام تر لاسه کړي دکومې لۀ پاره چې د هغۀ تخليق پۀ عمل کښې راغلی دی هم پۀ دغه وجه انسان پۀ داسې نفسياتي بڼه کښې تخليق کېږي چې د ټولنې نه بغېر دژوند سوچ هم نۀ کوي او هم پۀ دغه سوب انسان ته ټولنيز ساکښ (social animal)وئيلی شوي دي .چونکې څۀ ته چې موږ ژوند وايو نو هغه د ټولنې نه بغېر ممکن نۀ دی ،تصور يې نشته امکان نۀ لري نو موږ ډاډه وئيلی شو چې ژوند يعنې معياري ژوند لۀ پاره ټولنه ډېره مهمه ده او دواړه ديو بل لۀ پاره لاژم اوملزوم دي . ټولنه دوګړي نۀ او وګړی د ټولنې نۀ پۀ هېڅ جوړنۀ شي جُدا کېدی ،ټولنه پۀ وګړي کښې او وګړی پۀ ټولنه کښې ښکاري.دټولنې ټول رنګونه،ښائستونه،ښکلاګانې ،ګډاګانې ، نڅاګانې ،اتڼونه،مېلې،اخترې،خوشحالۍ،ژوندي انساني قدرونه ،راشه درشه او ټولنيز نفسيات د وګړي پۀ ذات او شخصيت کښې ښکاره کېږي او دغه رنګ ديوې ټولنې دردونه ، ستونزې ،پيکه والي ،کمۍ،خامۍ ،ناوړه انساني رويې کۀ هر څومره او هر څنګه وي وګړی متاثره کوي . پۀ شخصيت يې اثر پرېږدي ،دذهني تربيې برخه يې جوړېږي او هېڅ کله ترې هم مخ نۀ شي اړولی،ځکه چې ټولنه دهغۀ پۀ شعور،لاشعور،فکراواحساس دومره ژور اثر پرېږدي چې د هغۀ د ټول شخصيت او نفسياتو نۀ پرې کېدونکې برخه جوړېږي اودغه اثرات ټول عمر تر اخري ساګانو پورې هغۀ د ځان پۀ شعوري يا لاشعوري توګه ملګري ساتي.دټولني دذکر سره بايد هغه ټول اجزاء اوعناصر پۀ ذهن کښې اوساتلی شي چې ټولنه ترې جوړېږي او هغه محرکات هم چې د ټولنې پۀ عمومې جوړښت او کلهمه فضاء اثرانداز کېږي . شاعر هم ديوې ټولنې وګړی وي او بيا موږ پۀ دې هم پوهه يو چې شاعر دټولنې تر ټولو حساس او سترګه ور وګړی وي او د ټولنې اغېزې تر ټولو اول هم شاعر محسوسوي،اثر ترې اخلي،تجزيه يې کوي،تنقيد پرې کوي،او تبصره پرې کوي ،ستائنه يې کوي او غندنه يې کوي ،ګډا،نڅا او خندا پرې هم کوي او نغمې او سندرې پرې هم ليکي او غوغا ،واويلا او

ژړا پرې هم کوي او نوحې او ساندې پرې ليکي ځکه چې ادب د ژوند عکس دی،ادب د ژوند تفسير دی او ادب د ژوند ترجمان دی او لکه چې وړاندې ذکر شول چې ژوند د ټولنې نه بغېر عنقا دی او تصور يې ممکن نۀ دی.د ادب،ژوند او ټولنې دغه تعلق د پښتو ژبې د ستر نقاد او ليکوال سليم رازد وينا نه نور هم واضحه کېږي.

سليم راز پۀ خپل مشهور کتاب"تنقيدي کرښې" کښې ليکي :

"ادب پۀ معاشرتي ژوند کښې پيدا کېږي او د ژوند سرګرميو نه حرارت او قوت اخلي او وده مومي .دخپل عهد د جمالياتي او سماجي قدرونو عکاسي او نمائندګي کوي .د خپل چاپېرچل نه اثرات قبلوي ترقي پسند خيالات او صحمتند رجحانات خپلوي او مخ پۀ وړاندې ځي او بيا دخپل عمر زاړۀ ،وراستۀ قدرونه غېر صحتمند روايات ماتوي او نوي تازه او توانا قدرونه متعارف کوي او نوي روايات قائموي ځکه نوادب يو موثر سماجي عمل ثابتېږي چې د ضرورت ،افاديت او اهميت نه يې انکارنۀ شي کېدلی او دسماجي عمل پۀ حېث يې مطالعه کول اود تخليق پۀ وخت يې پۀ شعوري طور ددې سماجي منصب اوحېثيت خيال ساتل په کاردي--"١

دادب ،ژوند او ټولنې ددغه پوخ تړون پۀ سوب ګڼ شمېر نقادان ادب ته يو ټولنيز عمل وائي چې ترې داخبره نوره واضحه کېږي چې د اديب اوادب لۀ پاره ټولنه او ټولنيز شعور څومره مهم دي هم دغه خبره سليم راز پۀ خپله شعري ټولګه "زه لمحه لمحه قتلېږم" کښې "چې الهام مې زميني او زماني دی" د سرخط لاندې داسې ليکي:

اوهم دغه ادب دی چې د ژوند غېږه د ښکلاء،امن او مينې دنغمونه ډکوي ،اوبشر دخېر او شر پۀ معني او مفهوم پوهوي او ورته د مخکښې تګ لارې ښايي اوپۀ مخکښې يې بيايي . ځکه پۀ معاشره کښې دادب رول ډېر مثبت او تعميري وي او دمعاشرې سره ډېر جوخت تړون اوسمون لري او د ادب نقادان ورته پۀ ځائی يو سماجي عمل وايي.٢

ټولنیز رول دادب مهم رول ضروردی خودادب نورې وظیفې هم پهٔ خپل ځائی مهمې دي او انکار ترې ممکن نهٔ دی .دادب ،ادیب اوټولنې دترون او شعور پهٔ اړه د اردو ژبې نوموړی شاعر او نقاد مجنون ګورکهپوري داسي لیکي :

ادیب کوئی راہب یا جوگی نہیں ہوتا، اورادب ترک یا تپسیا کی پیداوار نہیں، ادیب بھی اس طرح ایک مخصوص ہیت اجتماعی، ایک خاص نظام تمدن کا پروردہ ہوتا ہی جس طرح کہ کوئی دوسرا فرد. اورادب بھی براہ راست ہماری معاشی اور سماجی زندگی سی اس طرح متاثر ہوتا ہی جس طرح ہماری دوسری حرکات وسکنات."۳

ښکاره ده چي ټولنه دادب اوادیب لهٔ پاره څومره مهمه ده او ددغه ټولنې عکس او ترجماني به پهٔ ادب کښې څومره ارزښت لري خو دغه ترجماني او نمائندګي یو لیکوال پهٔ بیلا بیله لاروطریقو کوي او د هغهٔ د دغه ټولنیزې فریضې او ادبي غوښتې اندازه د هغهٔ د ټولنیز شعور نه لګولی شي کوم چې د هغهٔ پهٔ تخلیق کښې پهٔ نظر راځي.

دښاغلي سراج الدین سراج د شاعرۍ ترټولو کوټلی او ښکاره رجحان د هغهٔ ټولنیز شعور دی . هم ددغه ټولنیز شعور پهٔ زور هغهٔ د تهذیب،کلتور،ژبې،مذهب،سیاست،معیشت او نورو ټولنیزو اقدارو او رویو پهٔ اړه خپل نقطه نظر لري.دسراج الدین سراج د سماجي او ټولنیزشعور پهٔ شاه لیدکښې هغه حالات،معروض اوچاپیریال پهٔ نظر کښې ساتل ډېر مهم دي پهٔ کوم کښې چې هغهٔ شاعري تخلیق کړې ده.دغه رنګ به موږ ته د هغهٔ دټولنیز شعور پهٔ اړه پهٔ پوهېدو کښې اساني ترلاسه شي . ظاهره ده چې زما مطلب دپښتون هېواد هغه وینې وینې معروض دی چې ډېر بحثونه پرې کېږي،سیاسي نظام دی ،مذهبي فضاء او رجحانات دي او کلتوري تصادم اوبدلېدونکې ټولنېزې رویې دي چې زموږ ټولنه ورسره مخامخ ده. پښتنه ټولنه چې پهٔ مجموعي ډول دکوم اژدها پهٔ خولهٔ کښې د بقاء د جنګ سره مخامخ ده سراج یې داسې ادراک لري:

څـــو بــــه د پښـــتون نســـل کشــــي کېـــږي
مینــــدې د بچـــو د خـــون حســـاب غـــواړي

نــــوره يـــې د صـــبر کاســـه ډکـــه شـــوه
اوس د رهبرانـــو نـــه جـــواب غـــواړي؛ ۴

هم دغهٔ شعوريې پهٔ بل ځائی کښې داسې بيان کړی دی:

د پښـتون پـهٔ سـرتر اوسـه پـهٔ اخـلاص
ايښـی نـهٔ دی چـا د مينـې وفـا لاس
څـوک يـې يـو او څـوک يـې بـل طرفتـه تـه بيـائي
مـداريانو ترينـه غصـب کـړهٔ احسـاس؛۵

او يا لکه لاندې شعرونه هم د دغهٔ شعور عکاسي کوي:

ستاســو کــور کښــې امــن دی مــزې کــوئ
دلتــه مــو د اوســپنو بــاران وکــړهٔ
تاســو پــهٔ امــرودو کښــې پېســې ګټــئ
مــوږ پــهٔ زمــرودو کښــې تــاوان وکــړهٔ؛ ۶

دذکرشوو نمونونه د شاعرد هغه ژورشعوراندازه پهٔ اسانه لګي چې دپښتنې ټولنې دبدامنۍ د ناسور پهٔ اړه هغهٔ لري اودغه رنګ د هغه سازشونو پهٔ اړه هم د هغهٔ شعور مخې ته راځي کوم چې د دغه ناوړه لوبې پهٔ شا موجود دي او موږ ټولو ته پته ده چې امن د يوې ټولنې لهٔ پاره څومره ضروري دی او بدامني يوه ټولنه څومره وروستهٔ پاتې کوي--

دسراج الدين سراج د ټولنيز شعور دويم مهم او واضحه عنصر د هغهٔ سياسي شعور دی . د يوې ټولنې پهٔ ساتلو، مخ پهٔ وړاندې بوتللو، د هغې پهٔ جوړولو ورانولواو شا ته ساتلو

کښې دسیاست اونظام دکردار نه څوک انکار کولی شي؟ سیاست دیوې ټولنې د حکومت او چلولو نظام جوړ وي او ټولنه ډېره متاثره کوي . دلته سیاست ،سیاسي نظام او سیاسي خلق دکوم معیاردي؟ څهٔ کوي او پهٔ کوم رنګ کښې موږ او زموږه ټولنه متاثره کوي ؟ سراج الدین سراج پرې پهٔ خلاص متن تبصره کوي :

ترـ اوسـه څـوک د ازادۍ پـهٔ خـوږو پوهــه نـهٔ شـول
ځلــور نســلونه رالــه دي غاصــب نظــام اوخــوړل
د شــمار یــو څــو تنــه د ملــک پــهٔ وســائلو قــابض
د وطـــن نـــور خلـــک ناقصـــه انتظـــام اوخـــوړل۷

هم دغه رنګ بل ځائې وايي:

دا غرونــه کــهٔ د ســرو شــي د ســین کــاڼي د یــاقوتو
خــو بیــا بــه هــم حالــت د غریبــانو بــدل نــهٔ شــي
چــې دا غاصــب نظــام وي د بــدلون طمعــه عبــث ده
چې څنګه نولس ده ، نولس بـه وي خو شل بـه نهٔ شي۸
مقصــد ،مرام یــې صــرف د دولــت جمــع کــول وي
کــوپړۍ یــې نــوره ټولــه د دمــاغو نــه خــالي وي
د خلقـــو رهبـــران د عقـــل پـــوهې خاونـــدان وي
زمـوږه چـې څـوک مشـر شـي ډګریـانې یـي جعلـي وي۹
ژونـــــد د انګریزانـــــو پـــــهٔ امـــــداد کـــــوو
خیــــر تــــــه رهبرانــــــو کښــــــېنولي یــــــو
نــهٔ قــانون شــته ، نــهٔ نظــام ، نــهٔ انتظــام شــته
پــهٔ یــو داســې چاپېرچــل کښــې اوېــزان یــو۱۰

هم دغه شعور پهٔ لاندینۍ قطعه کښې داسي ځایوي:

عیش پرست او خود پسند چې مشران شي
د هغه هیواد وګړي یتیمان شي
چې کوم قام ته مخلص مشر الله ورکړي
رعایا یې لکه ستوري د اسمان شي۱۱

او یا دا چې:

دلته هغه خلق پراډو کښې سورلي کړي
چې د فراډ کولو فن کښې ماهران وي
موږ به خاورې ترقۍ طرف ته لاړ شو
چې مو داسې بې ضمیره مشران وي۱۲

مذهب،مذهبي پوهه، تفهیم او شعور دهرې ټولنې د سکون ،امن او خوشحالۍ ضامن وي ځکه چې دمولانا ابولکلام آذاد پهٔ قول دا هغه دېوال دی چې هره سترې ملا ورته د دمې لهٔ پاره ډډه وهل غواړي خو دا خبره هم یو ښکاره حقیقت دی چې مذهب خلق پهٔ غلطو طریقو کاروي،غلط تشریح یې کوي د خپل مفاداتو لهٔ پاره یې وسیله جوړوي او د ټولنې توازن او سکون برباد وي .د سراج الدین سراج د پراخه ټولنیز شعور پهٔ کېنوس کښې د هغهٔ دغه شعور او احساس هم ښکاره پهٔ نظر راځي ځکه چې هغهٔ پوهه دی چې مذهب او مذهبي تفهیم ټولنه څومره او څنګه متاثره کوي -- هغهٔ لیکي:

د کردار خبره نشته،د ګفتار مسلماني ده
پهٔ هر خوا نفسا نفسي ده ، پهٔ هر کور کښې ځان ځاني ده
د ایمان خبرې کېږي

سراســــــــــر بـــــــــې ایمـــــــــاني ده۱۳

او یا دا چې:

چـې تـا د دیـن پـهٔ نـوم بانـدې پـهٔ نـورو نـورو سـر کـړي
مجبـــوره یـــې وارث د پیغمبـــر بـــه ورتـــه وایـــې۱۴

هم دغه رنګ دا چې:

پـــهٔ اســـلام بانـــدې د خپلـــه ســـره تېـــر یـــو
چـــې د مـــال خبـــره راشـــي پـــهٔ شـــا کېـــږو
پـــهٔ حجونـــو ، تبلیغونـــو ډېـــر مئـــین یـــو
خـــور چـــې خپلـــه برخـــه غـــواړي خفـــه کېـــږو۱۵

هم دغهٔ رنګ پهٔ لاندینۍ قطعه کښې دغه شعور څومره پهٔ معني خېز انداز کښې مخې ته راغلی دی .

دینـــــي جذبـــــه خـــــو د ایمـــــان برخـــــه ده
زاهـــده ښـــهٔ شـــوه ســـتا ایمـــان تـــه خېـــر شـــهٔ
چـــې یـــې مېـــږهٔ پـــهٔ خپلـــه خوښـــه غوښـــتهٔ
جینـــۍ سنګســـاره شـــوه اســـلام تـــه خېـــر شـــهٔ۱۶

دغه رنګ پهٔ لاندینۍ قطعه کښې یې د خپل هېواد او ټولنې د مذهبي تاریخ سره سره دسیاسي تاریخ هغه اوږده قیصه او داستان خوندي کړی دی چې ډېر ډېر کتابونه پرې لیکلی کېدی شي .دغه قطعه د شاعر د کوټلي ټولنیز شعور بې بدله نمونه ده۔

وخـــــت ســــــره بـــــــدلېږي تقاضـــــــې د وخـــــت
نــــــن پـــــهٔ منبــــــر نـــــوی بیـــــــان شـــــوی دی
مخکښـــــــې امریکــــــه زمــــــوږه خپلـــــــه وه
اوس د خپـــــــره روس مســـــــــلمان شـــــوی دی۱۷

دغه رنګ سراج الدين سراج ددې حقيقت نه خبر دی چې ديو قام پهٔ ټولنيز ژوند کښې د ژبې کوم ضرورت او اهميت وي او ژبه يو قام پهٔ ټولنيزه حواله څومره تړلی اومتحد ساتي . د غلامۍ داحساس نه يې پهٔ ډډه ساتي او دخپل بنياد او ځېلو سره يې کلک تعلق پهٔ ځائی ساتي خو سراج الدين سراج چې د خپلي ټولنې مشاهده کوي نو حالات ورته د زړهٔ غټېدو نهٔ ښکاري  او دغه احساس يې هم دټولنيز شعور د بوډۍ د ټال پهٔ رنګونو کښې ګډېږي :

نـــهٔ پښـــتو ليکلـــی شـــو او نـــهٔ پښـــتو لوســـتلی شـــو
وئيلـــې بـــه مـــو هـــم نـــهٔ شـــوه کـــهٔ ژبـــه مـــو د مـــور نـــهٔ وی
دا بـــه پـــهٔ شخصـــي توګـــه مـــوږ هـــم عملـــي کـــړی وی
دومـره ګرانـه نـهٔ وه کـهٔ خپـل زړونـه مـو تـري تـور نـهٔ وی۱۸

هم دغه رنګ بل ځائی وائي:

دا پښــــــــــــتو زمـــــــــــــوږه مـــــــــــــور ده
مـــــــور درنــــــه کـــــړئ چـــــې درانـــــهٔ شـــــئ
د غفلـــــــــــت د خوبـــــــــــه پـــــــــــاڅئ
خپـــــــــر دی اوس خـــــــو پښــــــــتانهٔ شـــــــئ۱۹

دغسې پهٔ بل ځائی کښې ليکي :

پښـــــــتانهٔ پــــــــاتې نـــــــــهٔ دي
پښـــــــتو لیکـــــــل نـــــــهٔ ورځـــــــي
پښـــــــتو وئیلـــــــی شـــــــي خـــــو
پښـــــــتو کـــــــول نـــــــهٔ ورځـــــــي ۲۰

د ژبې پهٔ اړه هم دغه شعور خپل اولس سره پهٔ بل ځائی کښې داسې شریکوي:

پښـــــــتنو پښـــــــتو زمـــــــوږ پېژنـــــــد ګلو ده
پښـــــــتو وایـــــــئ پښـــــــتو لیکـــــــئ پښـــــــتو لـــــــولئ
دا یـــــــوازې ژبـــــــه نـــــــهٔ ده دســـــــتور هـــــــم دی
هـــــــر عمـــــــل مـــــــو د پښـــــــتو پـــــــهٔ کـــــــانې تلـــــــئ۲۱

هم دغه شان د نړۍ ټول ټولن پوهان او اقتصادي ماهران پهٔ دې خبره یوه خولهٔ دي چې پهٔ کومه ټولنه کښې طبقاتي نظام او لاندې باندې وي هغه ټولنه هېڅ کله هم پُر امنه او خوشحاله ټولنه نهٔ شي کېدلی . دغه طبقاتي فرق او لاندې باندې د یوې ټولنې دارام او سکون لهٔ پاره د زهر قاتل درجه لري . سراج ا لدین سراج د خپل رسا فکر او شعور پهٔ زور ددغه حقیقت نه خبر دی او چې کله هم د ټولنې خبره کوي نو دغه حقیقت یې پهٔ نظر کښې وي او سترګې ترې نهٔ پټوي:

ځـــــــان د قـــــــام او ملـــــــت پاســـــــداران بـــــــولي
خـــــــو حقونـــــــه د قـــــــام خـــــــوري لکـــــــه مـــــــرداره
مـــــــوږ یـــــــې اوګټـــــــو د ښـــــــې تـــــــوخې نـــــــه اوځـــــــو
مفـــــــت خـــــــوارهٔ یـــــــې رانـــــــه اوخـــــــوري پـــــــهٔ تیـــــــاره۲۲

هم دغه رنګ بل ځائی کښې لیکي:

د سـبر اوړو د اخسـتلو تـوان یـې نـهٔ وي
څـوک چـې دوه منـه بـوجۍ پـهٔ اوړو وړی شـي
چـې دړۍ وزن تـه هـم پینځـه دمـې کـړي
هغـه خلـق چـې څـه غـواړي اخسـتی شـي۲۳

دبره ذکر شوو عناصرونه علاوه سراج الدین سراج هغه عناصر او عوامل هم پهٔ نظر کښې ساتلي دي چې کوم د وګړو د بې حسۍ، بې پروایۍ او کم فهمۍ لهٔ کبله پهٔ ټولنه کښې پهٔ نظر راځي او ټولنه متاثره کوي . دغه عناصر څهٔ پهٔ مجموعي ډول پهٔ وګړو کښې موجود وي او څهٔ پهٔ انفرادي توګه سراج الدین سراج دواړه پهٔ نظر کښې ساتلي دي او ګوته یې ورته نیولې ده چې د هغهٔ د ژور ټولنیز شعور سره سره د هغهٔ د تېز قوت مشاهده هم عکاسي کوي . د پښتنو مجموعي مزاج چې کومې خامۍ خپلې کړې دي او د هغوي د پر مختګ د لارې خنډ دی سراج الدین سراج ورته داسې ګوته نیسي :

نـهٔ یـو شـوي نـهٔ امکـان شـته چـې بـه یـو شـي
پښـتانهٔ کـهٔ مشـران کـهٔ کشـران دي
څـهٔ بـې مـوره او بـې پـلاره زنـدګي کـړي
دا بدبختـه لـهٔ ازلـه یتیمـان دي۲۴
پـهٔ خپـل کلـي کښـې پـردي جنـګ کښـې مـړهٔ کېـږي
جنـګ لـه نـهٔ ځـي پـهٔ خپـل کـور کښـې شـهیدان دي
خپـل دشـمن یـې چرتـه نـهٔ دی پېژنـدلی
کـهٔ نـران دي نـو بـس یـو بـل تـه نـران دي
د اسـلام د الـف،بې نـه خبـر نـهٔ دي

ژونـــد پـــرې نـــۀ کـــوي لـــۀ ســـره پـــرې قربـــان دي۲۵

ددې نه پورته هغه ناوړه رويې او رجحانات چې پۀ انفرادي توګه ديوې ټولنې پۀ وګړو کښې موجود وي او پۀ ټولنه منفي اثر پرېږدي هغه ډېر پۀ تفصيل د سراج الدين سراج د ټولنيز شعور پۀ نظر کښې دي او د هغۀ پۀ شاعرۍ کښې موجود دي ـ دلته د هغه رويو او رجحاناتو لنډ ذکر کولی شي .د بې ځايه غرور،نرګسيت ،حسد ،بغض او کرکې پۀ اړه ليکي:

کـــۀ هـــر څـــو د غلامـــانو غلامـــان يـــو
خـــو غـــاوره يـــو چـــې ســـتوري د اســـمان يـــو
عالمونـــــه د عـــــروج پـــــۀ بـــــام ولاړ دي
مـــوږ د حســـد ،بغض،کرکې مريضـــان يـــو۲۶
چـــل ســـراج لـــه اوس د خلاصـــي نـــۀ ورځـــي
حســـد ،کرکې تـــوت تـــه خېژولـــي يـــو۲۷

د سستۍ،کاهلۍ ،بې علمۍ او بې مقصدۍ پۀ اړه ليکي:

خلقـــو د ژونـــدون نـــه مـــزې واخســـتي
مـــوږ د هـــرې چـــارې نـــه وتلـــي يـــو
کـــار کســـب مـــو نشـــته لاس نيـــوې کـــوو
ژونـــد پـــۀ قـــرض پـــور کـــړو نـــازولي يـــو
نـــۀ مـــو څـــۀ مـــرام شـــته نـــۀ مقصـــد شـــته دی
پوهـــه نـــۀ يـــو څـــۀ شـــي لـــه راغلـــي يـــو۲۸

د بې حسۍ پۀ اړه داسې وايي:

څوک چې مړ شي د ژوندون د قېده اوځي
د ژوندون پرې څۀ احسان نۀ پاتې کېږي
چې احساس پۀ بنيادم کښې پاتې نۀ شي
ساه به اخلي خو انسان نۀ پاتې کېږي۲۹

د مفت خورۍ پۀ اړه داسې ليکي :

خپله برخه کار چې نۀ کړي پۀ سماج کښې
د سماج پۀ اوږو دغه انسان سور دی
دا انسان نۀ دی سپږۍ ده د اناجو
پۀ تياره پردی حق خوري حرام خور دی۳۰
دا ځنې مفت خوارۀ د نور اولس پۀ اوږو بار وي
تعمير کښې کردار نۀ لري خو اغوندي او خوري
چينار کۀ ميوه نۀ نيسي نو سيورى خو يې شته دی
يوه خوبي کۀ نۀ لري نو بلۀ خو لري۳۱

د دوه رنګۍ پۀ اړۀ داسې ليکي:

د ځنې ځنې خلقو پۀ کردار باندې شکي شم
چې ګورم ورته يو څۀ کوي، بل څۀ بل څۀ وايي
د ځان د پاره يو څۀ خوښوي او ماله بل څۀ
پخپله پرې عمل نۀ کوي ما ته چې فرمايي۳۲

د قول وفعل د تضاد پۀ اړه بل ځائی داسې وايي:

د دُنيا د هر يو خوند نه مزې اخلي
خو زماَ د اخرت پۀ غم غمژن دی

مالـــه يـــو څـــۀ خوښـــوي او ځـــان لـــه بـــل څـــۀ
ناصـــــح څـــــومره مکـــــرژن او فريـــــب ژن دی۳۳

دغه رنګ دغه رويې پۀ پر له پسې ډول د سراج الدين سراج پۀ شاعرۍ کښې موجودې دي او هغۀ خپل قام او ټولنې ته وړاندې کړې دي او بيا يې ورله خبرداری هم ورکړی دی چې ددغه ناوړه رويو او رجحاناتو انجام به ښۀ نۀ وي:

اصـــول دي چـــې د هـــر يـــو عمـــل خپـــل رد عمـــل وي
چـــې داســـې دې کولـــه نـــو بـــس دا خـــو بـــه کېـــده
اوس غـــوږ شـــه نتيجـــې تـــه پـــۀ انجـــام يـــې غـــور اوکـــړه
د دغســـې لانجـــې نـــه خـــو بـــه داســـې رغېـــده۳۴

د دغه ټولوخارجي او داخلي عناصرو،سازشونو،روکاوټونو، اجتماعي او انفرادي رويو او رجحاناتو نه چې کومه نتيجه راوتلې ده هغه زموږ پۀ وړاندې ده سراج الدين سراج د نتيجې هغه تصوير هم ښۀ روڼ او واضحه مخې ته کړی دی چې پۀ قدم قدم د هغۀ د ټولنې روڼ اوحقيقي تصوير دی . ځکه خو ډاکټر اظهار الله اظهار وايي چې:

"د ښاغلي سراج الدين سراج هُنري انفراديت او فنکارانه کمال دادی چې هنر يې بې ريا دی .دروغ يې خواږۀ کړي نۀ دي او رشتيا يې تراخۀ کړي نۀ دي او دا وصف د لويو هنر مندانو نصيب کېږي ."۳۵

او د ډاکټر اظهار د دغه خبرې تصديق هغه حقيقي ټولنيز تصوير دی د بره ذکر شوو عواملو پۀ نتيجه کښې پۀ ټولنه کښې عملاً موجود دی او سراج الدين سراج پۀ خپله شاعرۍ کښې خوندي کړی دی د ثبوت لۀ پاره يې څو نمونې دلته وړاندې کولی شي :

مينـــه دلتـــه کښـــې عنقـــا شـــوه،خو د کرکـــو ارزانـــي ده
هـــر زلمـــی نـــيم لېـــونی دی، هـــره پېغلـــه پېزوانـــي ده

د کـــردار خبـــرې نشـــته ،د ګفتـــار مســـلماني ده
پۀ هر خوا نفسا نفسي ده،پۀ هر کور کښې ځان ځاني ده
د ايمـــان خبـــرې کېږي،سراســـر بـــې ايمـــاني ده
بـې وسـي ده د بـې وسـو،د شـته منـو مـن مـاني ده۳۶

پۀ بل ځائی کښې دغه تصوير داسې مخې ته راځي :

کۀ غريب دی او کۀ خان دی ، دلتـه هر سړی پۀ ځان دی
مـيم زور مـا هـر څـۀ زمـا دي ، دغـه کـار د حکمـران دی
څوک عېشونه او مستي کړي ، څوک د پوزې اوېزان دی
هغـۀ پـړ دی ګنهنګـار دی ، چـې کمـزوری دی نـا تـوان دی
د خپـل حـق تپـوس او نـۀ کـړې ، دا خـو ښـار ناپُرسـان دی
د ګفتـار غـازيـان بلهـا دي ، د عمـل کـردار فقـدان دی
بارانونـه د خپـر نشـته ، د طوفـان ،ږلـۍ امکـان دی
فســادونه بـــې امنـــي ده، او وطـــن د مســـلمان دی
ژړاګـانې واويـلا ده، پـۀ هـر لـوري هـائی سـوران دی۳۷

ددغه ټولو بېلګو پۀ موجودګۍ کښې دا خبره ثابتېږي چې سراج الدين سراج د خپلې ټولنې،معروض او چاپېريال سره ژور تړون لري او هم د دغه ذکر شوو څيزونو نه يې دخپل تخليق لۀ پاره مواد تر لاسه کړي دي . هغۀ د خپلې ټولنې کوټلی او حقيقي شعور لري او دغه شعور يې پۀ شعري ټولګه "داغونه مې خالونه کړل" کښې تر ټولو واضحه، شوخ او جوت پۀ نظر راځي۔

## حوالې

1- سليم راز، تنقيدي کرښې. دوېم ځل،پېښور،بلال شاه پرنټنګ ايجنسي قيصه خوانۍ ،نومبر2000، مخونه ۲۲،۲۳

-2 سليم راز،زۀ لمحه لمحه قتلیږم. دویم څل،پېښور،یونیورستي پبلیشرز،قیصه خوانۍ ،دسمبر ۲۰۱۱،مخ ۵

-3 مجنون ګورکهپوري،نکات مجنون،کراچي،مکتبه عزم وعمل ،1966،مخ ۵۵

-4 سراج ،سراج الدين ،داغونه مې خالونه کړل ، پېښور ،اعراف پرنټرز، 2016،مخ ۱۱۸-

-5 هم دغه، مخ 139

-6 هم دغه، مخ 171

-7 هم دغه، مخ 100

-8 هم دغه، مخ 136

-9 هم دغه، مخ192

-10 هم دغه ،مخ69

-11 هم دغه ،مخ66

-12 هم دغه ،مخ179

-13 هم دغه ،مخ150

-14 هم دغه ،مخ39

-15 هم دغه ،مخ59

-16 هم دغه ،مخ89

-17 هم دغه ،مخ155

18- هم دغه، مخ**200**

19- هم دغه ،مخ**200**

20- هم دغه ،مخ**131**

21- هم دغه، مخ**86**

22- هم دغه ،مخ **88**

23- هم دغه، مخ **123**

24- هم دغه، مخ **140**

25- هم دغه، مخ **47**

26- هم دغه، مخ **66**

27- هم دغه ،مخ **67**

28- هم دغه، مخ **69**

29- هم دغه، مخ 120

30- هم دغه ،مخ **126**

31- هم دغه، مخ 133

32- هم دغه، مخ 141

33- هم دغه، مخ 143

34- هم دغه، مخ 80

35- اظهار ،اظهار الله ،ډاکټر ،دالهام پرانستې دروازې، مشموله داغونه مې خالونه کړل. سراج الدين سراج ،پېښور ،اعراف پرنټرز،2016،مخ،17

36- هم دغه ،مخ 39

37- هم دغه، مخونه 65,64